محمد اسحاق بـرکت
ویـرجینیا ـ امـریکا

## ارمـانـونه خاورې کيږي

دې هـــود را سره کړې وه خو خپله بیا را نغله
دا خـرنګـــه يو هود وو چې هيځکله بيا را نغله

پلمې بـه يې کولې چې لـــه موره دا داريـږي
د مور خبره نه وه پیغورونه داريدله چې رانغله

ګودر ته بهروانـــهوه په نجـونـوکې سرداره
روانه په نخروکې لکه زرکه ګرزيدله بيا را نغله

سپين مخ يې ښکاريده لکه سپوږمی د خوارلسمې
په وريځو کې د زلفو ورکيدله ښکاريدله بيا رانغله

غاړه يې د هيلی په هوا کې الوته لکه کوتره
هوسی په شان غورځنګ کې تښتيدله بيا رانغله

منګی به يې ډکوله او بنګړی بهيې شرنګولې
پيزوان يې د سرو زرو، نتکی يې ځليدله بيا رانغله

وختونـــه زر تيريـږي ارمانـونـــه خاورې کيږي
له دې نه وم هېرسوی خو دا زما نه هېريدله بيا رانغله

يوه ورځ يې دلته وليـدم ايريـان خـوار او زهيـر
خندا نه تکه شنه سوه په خندا کې پُـټيدله بيا رانغله

پلـويې رانــــه ونيـوه د سترګــو پـــه يو رپ کې
وره وه نازولې "بـرکت" نه شرميدله بيا را نغله

اربـاب رود ـ پېښـور ښـار
دغبر ګولې ۱۶ کال۱۳۶۸